Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

دويم کال - ۴۷مه ګڼه | پرله‌پسې ۶۱مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۱۴



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- تخار کې د سپين زر امارتي ښارګوټي د دويم فاز د چارو پيل

۲- د اوسپنې پټلۍ له لارې د انتقالاتو ۳۳ سلنه زياتوالی

۳- د جلغوزيو په صادراتو کې ۲۵ سلنه زياتوالی

# تخـار کـې د سپین زر امارتـي ښارګوټي د دویم فـاز د چـارو پیل

په تخار کې د نهه میلیون ډالرو په ارزښت د سپین زر امارتي ښارګوټي د دویم فاز چارې پیل شوې. دا ګام د هېواد د شمال – ختیځ زون له پاره مهم اقتصادي ګام بلل کېږي. په دغه فاز کې درې سوداګریز مرکزونه شامل دي چې پر ۲۵ جریبه ځمکه به دوه لوی مارکېټونه او شاوخوا ۴۰۰ دوکانونه ولري او همدارز به د څلورو صالونونو په درلودو سره د ودونو یو تالار هم ولري. دا پروژه له اقتصادي اړخه ډېرې مثبتې اغېزې لري. لومړی د کارموندنې فرصتونو ایجاد دی، چې د چارو په پیل سره لسګونه هېوادوال د یوې مودې له پاره په کار بوختېږي. دغه راز، د مارکېټونو په فعالېدو سره هم سلګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غېر مستقیم ډول کاري زمینه برابرېږي، چې هټۍ وال، خدماتي کارکوونکي، ترانسپورت سکتور او نور سکتورونه په کې مصروفېږي او هېوادوال حلاله نفقه مومي.



همدارنګه، د سوداګریزو مرکزونو په فعالیت سره د سیمې سوداګري منظمېږي، کوچني کاروبارونه پراختیا مومي او په مختلفو سکتورونو کې پانګونه کېږي. له دې اقتصادي فعالیتونو سره د ښاروالی عواید زیاتېږي، چې ښاروالی کولی شي دا عواید په نورو پراختیایي پروژو کې مصرف کړي. په ټوله کې دا پروژه کولی شي تخار د هغې سیمې په یو فعال سوداګریز مرکز بدل کړي او اقتصادي فعالیتونو ته لا ډېره زمینه برابره کړي.

# د اوسپنې پټلۍ له لارې د انتقالاتو ۳۳ سلنه زیاتوالی

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د معلوماتو له مخې، د ۱۴۰۴ کال د ورې له پیل بیا تر سلواغې پورې د هېواد د اوسپنې پټلۍ له څلورو بندرونو تر پنځه میلیون ټنه زیات توکي انتقال شوي دي، چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۳ سلنه زیاتوالی ښيي. دغه انتقالات د حیرتان، اقینې، تورغونډۍ بندرونو او د هرات - خواف مسیر له لارې ترسره شوي دي.



د رېل پټلۍ له لارې د توکو لېږد د سړک په پرتله ارزانه تمامېږي، چې دا کار د وارداتو لګښت کموي او په پایله کې د بازار ثبات ته زمینه برابرېږي. دغه راز، د ترانزیټي فعالیتونو پراختیا سره عواید زیاتېږي.

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ له ټولو هېوادونو سره ښې او پراخه سوداګریزې اړیکې غواړي. د اوسپنې پټلۍ له لارې د انتقالاتو زیاتوالی یو مهم پرمختګ دی او دا پرمختګ ښيي چې افغانستان د سوداګریزو لارو په متنوع کولو سره پر یوه هېواد د اتکا تګلاره ماته کړې ده.

د اوسـپنې پټلی له لارې د سوداګرۍ پراختیا د افغان سـوداګرو د باور لـه پاره مهمه ده، ځکـه کله چې د هېواد د اخلي تولیدات او محصـولات لـه ځنـډ او خنـډ پرتـه نـورو هېوادونـو تـه رسـېږي او یـا د افغان سوداګرو مالونه له نورو هېوادونو افغانستان ته له سـتونزو پرته راسېږي، نو د سـوداګرو بـاور لوړېـږي او خپلې چـارې په ډاډه زړه ترسره کوي.

## د جلغوزيو په صادراتو کې ۲۵ سلنه زیاتوالی

افغانسـتان په سـیمه کې د وچـې او تازه مېـوې مهـم صادروونکی هېـواد دی او د ځینو مېوو کیفیت یې ډېر لوړ دی. جلغوزي د افغانستان له مهمو صادراتي محصولاتو څخه دي چـې ډېره برخه یې پـه ختیځو او سـوېل ختیځو غرنیو سیمو کې تولیدېږي. د صنعت او سـوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۵ کال کې د افغانستان تور جلغـوزي د یو زر او ۳۱ ټنه پـه وزن او له ۱۵ میلیون ډالـرو څخه په زیات ارزښـت صادر شـوي دي، چې د تېرکال په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی ښـيي. دغه صـادرات چین، هند، ایټالیـا، متحـده عربـي اماراتو، سـعودي عربستان، جرمني، امریکا او نورو هېوادونو ته شوي دي. د جلغوزيو د صادراتو لوړېدل او د بازار پراختیا د هېواد د کلیوالي او غرنیزو سیمو اوسېدونکو او د جلغوزيو سوداګرو لـه پـاره د عایـد مهمـه سـرچینه ده. د جلغوزيو د صادراتو زیاتوالی ښـيي چې په بهرکـې د افغانسـتان جلغوزيو تـه تقاضا لـوړه ده. دا د دې ثبـوت هـم دی چـې افغانستان د لوړ کیفیت جلغوزي صادروي. په ټوله کې، د جلغوزيو صادراتو زیاتوالی د کرنیز سکتور د پیاوړتیا، د عوایدو د لوړوالي او د سیمه ییز اقتصاد د پیاوړتیا له پاره ښه زېری دی.

